# د حبقوق نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

حبقوق نبي کتاب د میلاد نه مخکې د اوومې پېړۍ په وروستیو وختونو کې لیکل شوی دی. د حبقوق په زمانه کې د بابل د هېواد خلک واکمن وو او د هغوی ظلمونو په حبقوق نبي باندې ډېر زیات تاثیر کړی ؤ او هغه یې غمجن کړی ؤ. هغه د څښتن څخه پوښتنه کوي چې ولې یې د ظالمانو د ظلم په وړاندې چوپتیا او خاموشي اختیار کړې ده؟ هغوی ته ولې وخت ورکوي چې څښتن پرېږدي چې هغه خلک تباه کړي چې د دوی نه ډېر نېکان دي.

څښتن هغه ته ځواب ورکوي چې په یو مناسب وخت کې به د بابل د هېواد خلکو ته سزا ورکړي او همدارنګه هغه وايي: «نېکان به د خپل ایمان په وسیله ژوند کوي.» (حبقوق ۲: ۴) په پای کې حبقوق خپله دعا د یوې ښکلې سندرې په شکل بیانوي. دا سندره په هغه خدای باندې د حبقوق د ایمان او باور ښکاره کوي چې په خپل لوی قدرت سره کاینات اداره کوي. حبقوق په ژوند کې د ستونزو او ناکامیو سره سره، په خدای باندې باور لري او په هغه کې خوشحالي کوي، ځکه چې خدای قوت ورکوي.

## د موضوعګانو لست

د حبقوق شکایت او د څښتن ځواب: ۱: ۱ - ۲: ۱

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بدکارانو تباهي: ۲: ۲ – ۲۰

د حبقوق دعا: دریم فصل

۱ ۱ دا هغه پیغام دی چې څښتن حبقوق پیغمبر ته په رویا کې
وښود.

## حبقوق پیغمبر د بې‌انصافۍ نه شکایت کوي

۲ ای څښتنه، زه به ترڅو پورې تاته د مرستې دپاره فریاد کوم،
خو ته ځواب نه راکوې؟ زه درته د ظلم په هکله چیغې وهم، خو ته
مونږ نه ژغورې؟ ۳ ته ولې ما مجبوروې چې دا بې انصافي
ووینم؟ ته څنګه کولای شې چې داسې بد کارونه ووینې او هغه
وزغمې؟ ګردچاپېره مې تباهي او ظلم روان دی او په هرځای کې
جنګ او جګړې روانې دي. ۴ هېڅوک قانون نه مراعت کوي او
هېڅکله د انصاف څخه کار نه اخیستل کېږي. بدکاره خلک تل په
محکمو کې بې‌ګناه خلکو ته ماتې ورکوي او د عدالت کولو مخه نیول
کېږي.

## د څښتن ځواب

۵ څښتن خپل قوم ته وویل: «خپل شاوخوا قومونو ته ګورئ او
تاسو چې هرڅه وینئ، نو ډېر حیران به شئ. زه به ستاسو د ژوند په
دوران کې داسې یو کار وکړم که تاسو ورڅخه خبر هم شئ، نو باور
به ونه کړئ. ۶ زه به بابلیان چې ظالمان او بې‌رحمه خلک دي،
قدرت ته ورسوم. هغوی به په ټوله نړۍ کې مخ په وړاندې روان وي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نور وطنونه به نیسي. ۷ هغوی وېره او ډار خپروي او دومره
مغروره دي چې فکر کوي هر کار چې دوی یې کوي، هغه سم او
قانوني دی.

۸ د هغوی اسونه د پړانګانو نه تېز دي او د وږیو لېوانو نه ظالمان
دي. د هغوی اس سواران د لېرې وطنونو نه راځي او د هغوی اسونه
په ځمکه باندې په تېزۍ سره روان دي. هغوی لکه د عقاب په شان
غوټه وهي او په خپل ښکار باندې حمله کوي. ۹ د هغوی
لښکرې په بې‌رحمۍ سره مخ په وړاندې رواني وي او څنګه چې
هغوی رانژدې کېږي، نو ټول ورڅخه وېرېږي. د هغوی د اسیرانو
شمېر د شګو په شان دی. ۱۰ هغوی د پاچاهانو سره سپک چلند
کوي او په لوړرتبه مامورینو پورې خاندي. هغوی په کومې کلا باندې
نه ایسارېږي، د هغې د دېوال سره د خاورو ډېرۍ جوړوي او هغه
نیسي. ۱۱ بیا هغوی د باد په شان تېرېږي او ورکېږي. هغه ګناهکار
خلک دي، ځکه چې خپل قوت خپل خدای بولي.»

## حبقوق یوځل بیا څښتن ته شکایت کوي

۱۲ ای څښتنه، ته له ازله زما خدای یې. ته زما سپېڅلی او ابدي
خدای یې، زما څښتن خدای او زما ساتونکی یې. تا بابلیان غوره
کړي دي چې د نورو په هکله قضاوت وکړي او هغوی ته دې قوت
ورکړی، ترڅو نورو ته د هغوی د ګناهونو له امله سزا ورکړي. ۱۳
خو ته څنګه کولای شې چې دا ټګان او بدکاره خلک وزغمې؟ ته
سپېڅلی یې، نو په دې خاطر بدیو ته نه شې کتلی او ته نه شې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولای چې د خلکو بدکاري وزغمې. کله چې هغوی هغه خلک تباه
کوي چې د دوی نه ډېر نېکان دي، نو بیا ولې چوپ پاتې کېږې؟

۱۴ ته څنګه کولای شې د خلکو سره د ماهیانو او خزندګانو په
شان چې کوم مشر نه لري چې لارښوونه یې وکړي، چلند وکړې؟
۱۵ بابلیان خلک د ماهیانو په شان په چنګکونو رانیسي. هغوی
خلک په جالونو کې راکاږي او د هغوی په نیولو باندې خوشحالي
کوي! ۱۶ تر دې چې هغوی خپلو جالونو ته عبادت کوي او هغو
ته قرباني وړاندې کوي، ځکه چې د هغوی جالونه هغوی ته دا توان
ورکوي چې په عیش او عشرت کې ژوند وکړي او ښه خواړه
وخوري. ۱۷ ایا ته هغوی ته اجازه ورکوې چې په دې ډول د تل
دپاره په بې‌رحمۍ سره قومونه له منځه یوسي؟

۲ ۱ زه به خپل د څارنې برج ته وخېژم او انتظار به وباسم،
ترڅو وګورم چې څښتن ماته څه وایي او زما شکایت ته څه ځواب
ورکوي.

## څښتن حبقوق ته ځواب ورکوي

۲ څښتن ماته دا ځواب راکړ: «څه چې زه درته په رویا کې ښایم
هغه په روښانه توګه په لوحو باندې ولیکه، ترڅو هغه په اسانۍ سره
ولوستل شي. ۳ ځکه چې د هغې د عملي کېدلو وخت لا نه دی
رارسېدلی. خو هغه وخت به زر راشي او هغه څه چې زه یې په رویا
کې درته ښایم هغه به رښتیا شي. که څه هم هغه وخت ورو ورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راځي، خو هغه ته انتظار کوه. خامخا به داسې کيږي او په هغې کې
کوم ځنډ نه رامنځته کيږي. ۴ ګورئ، هغه پيغام دا دی چې مغرور
خلک به ژوندي نه پاتې کيږي، خو نېکان به د خپل ايمان په وسيله
ژوند کوي.»

## د بدکاره خلکو پايله

۵ مال او دولت يو غولوونکی شی دی. مغروره خلک تل ناارامه
وي او د هغوی حرص لکه د قبر او مرګ په شان دی چې هېڅکله نه
مړيږي، نو ځکه هغوی د خپلو ځانونو دپاره قومونه رانيسي. ۶
اسيران شوي خلک به هغو خلکو ته چې دوی يې نيولي دي، پېغور
ورکوي او په هغوی باندې به ملنډې وهي. هغوی به وايي:

«افسوس ستاسو په حال! تاسو ته به خدای سزا درکړي، ځکه چې
تاسو هغه څه اخلئ چې ستاسو نه دي، ترڅو پورې به تاسو خپل
ځانونه په هغو شيانو باندې شتمن کوئ چې خپل پوروړي مجبوروئ
چې د خپل پور نه زيات شيان درکړي؟ ۷ نو د کومو خلکو نه
چې تاسو کوم شيان اخيستي دي، هغوی به ناڅاپه ستاسو په وړاندې
راپورته شي او ستاسو نه به د هغو نه زيات واخلي. هغوی به راشي
او تاسو به له وېرې ولړزوي. هغوی به تاسو لوټ کړي! ۸ تاسو د
ډېرو قومونو خلک لوټ کړي دي، خو اوس چې څوک پاتې دي،
هغوی به تاسو لوټ کړي، ځکه چې تاسو قتلونه کړي دي او د نړۍ
او د هغې د ښارونو د خلکو سره مو ظلم زياتی کړی دی.

۹ افسوس ستاسو په حال، ځکه چې تاسو چې په ظلم باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم شیان اخیستي دي، په هغو باندې مو خپله کورنۍ شتمنه کړې ده
او کوښښ مو کړی چې خپل کورونه د زیان او خطر نه په امن کې
وساتئ! ۱۰ خو ستاسې دسیسې ستاسو د رسوایۍ سبب شوې دي
او په دې کار سره تاسو د ډېرو قومونو په له منځه وړلو سره په خپل
ځان باندې تباهي راوستې ده. ۱۱ حتی د دېوالونو تیږې هم ستاسو
په خلاف چیغې وهي او ستاسو د کورونو د چتونو تیران هم ستاسو
په خلاف چیغې وهي.

۱۲ افسوس ستاسو په حال، ځکه چې تاسو د ښار بنیاد په
بې‌انصافۍ باندې ایښی دی او هغه مو د وینې په تویولو باندې جوړ
کړی دی. ۱۳ مطلق قادر څښتن داسې اراده کړې ده چې کوم
قومونه چې تاسو نیولي دي، هغوی خپل ځانونه هسې په کارونو
ستړي کړي وو او هغه ټول شیان چې هغوی جوړ کړي وو، هغه به
وسوځي او په ایرو باندې به بدل شي. ۱۴ ځکه چې ځمکه به د
څښتن د جلال د پېژندنې نه داسې ډکه شي لکه څنګه چې بحیرې د
اوبو نه ډکې وي.

۱۵ افسوس ستاسو په حال، ځکه چې تاسو په خپلو ګاونډیو
قومونو باندې د خپل قهر د جام شراب وڅښل او هغوی مو نشه کړل
او بیا مو هغوی وشرمول د دې دپاره چې د هغوی لوڅ بدنونه
وګورئ. ۱۶ د هغې په بدل کې به تاسو د عزت په ځای په شرمونو
پټ شئ. تاسو خپله به هغه وڅښئ او ستاسو لوڅوالی به ښکاره شي.
څښتن به په تاسو باندې د خپلې سزا پیاله وڅښي او ستاسو عزت به
په شرم او رسوایۍ باندې بدل شي. ۱۷ تاسو د لبنان سره ظلم کړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی، نو په تاسو باندې به هم ظلم وشي. تاسو د هغو حیوانات ووژل، اوس به حیوانات تاسو وېروي. دا کار به کیږي، ځکه چې تاسو قتلونه کړي دي او د نړۍ او د هغې د ښارونو د خلکو سره مو ظلم زیاتی کړی دی.

۱۸ یو بت څه ګټه لري چې انسان جوړ کړی دی یا یوه مجسمه چې د دروغو تعلیم ورکوي؟ دا د خپل جوړوونکي سره څه ښېګڼه کولای شي چې هغه وربانديې توکل کوي، که څه هم هغه خبرې نه شي کولای؟ ۱۹ افسوس ستاسو په حال چې د لرګي یوې ټوټې ته وايئ: ‹راویښه شه!› یا یوې تیږې ته وايئ: ‹پاڅېږه!› ایا بت تاسو ته کوم شی ښودلی شي؟ که څه هم هغه په سپینو یا سرو زرو باندې پوښل شوی وي، خو په هغه کې ساه نشته.»

۲۰ خو ښښتن په خپل سپېڅلي عبادتځای کې دی، نو د ځمکې په مخ ټول خلک دې د هغه په حضور کې خاموش وي.

## د حبقوق پیغمبر دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقۍ د تار لرونکو آلو سره)

# ۳

۱ دا د حبقوق پیغمبر دعا ده چې د سندرې په شکل ده.

۲ ای ښښتنه، تا چې کړي کوم کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترې خبر يمه زه او په ما راغلې وېره

تا چې کول کوم کارونه پخوا

اوس يې بيا وکړه زمانه کې زمونږ

کله چې ته په قهر هم يې نو اوسه رحيم

۳ خدای راروان دی يوځل بيا له ادومه څخه

سپېڅلی خدای دی راروان د فاران له غره نه

دي اسمانونه پټ د هغه په شان او شوکت

او ثنا او صفت نه يې ده ډکه ځمکه

۴ هغه راځي د برېښنا له رڼا سره

رڼا ځليږي د لاسونو نه يې

چې په کې پټ دی قدرت د هغه

۵ د ځان نه مخکې هغه لېږي ناروغي

او وژونکی مرض چې

شي راروان په هغه پسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ کله چې ودرېږي هغه نو ولړزېږي ځمکه

په رپېدو شي د دنيا ټول خلک په يو نظر د هغه

پخواني غرونه شي ټوټې ټوټې

او ښکته راولوېږي زړې غونډۍ

هغه غونډۍ چې پرې ګرځېده به هغه

په پخوا وختو کې

۷ ما وليدل په مصيبت کې د کوشان کوچيان

او لړزېدل د مديان خلک

۸ ايا سيندونو ته په قهر کړلې ای ښتنه؟

ايا درياب ته په غضب کړلې

کله چې ته وې راروان په اسونو باندې

او توفاني وريځ وه ستا دپاره جنګي ګاډی

چې خلاصون راوړ تا خپل قوم ته؟

۹ تا تياره کړله خپله لينده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شولې تيار چې کړې ګوزار خپل غشي

تا وشکوله ځمکه او شول جاري سيندونه

١٠ کله چې غرونو وليدلې ته نو هغه ولړزېدل

او جاري شول سيلابونه

د بحيرې اوبو شور جوړ کړلو

او شولې راپورته څپې د هغو

١١ په ځلېدلو ستا د تېزو غشو

ستا د ځلانده نېزې په رڼا

په خپل ځای ودرېدل لمر او سپوږمۍ

١٢ وګرځېدلې په قهر ټولې دنيا کې

په خپل غضب کې تا قومونه کړل تر پښو لاندې

١٣ ته ووتلې چې خپل قوم وژغورې

چې ته وژغورې خپل غوره شوی پاچا

تا کړ نابود د بدکارانو مشر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او پیروان دې د هغوی بیخي تباه کړل

۱۴ سوری سوری کړلو ستا غشو

قوماندان د هغه د لښکر

کله چې راغلل جنګیالي د هغوی

لکه توفان په شان چې خپاره کړي مونږه

وو خوشحاله هغوی د هغو خلکو په شان

چې کړي په پټه ظلم په غریبانو باندې

۱۵ تا ترېښو لاندې کړ دریاب خپلو اسونو باندې

او وکړل څګونه زورورو اوبو

۱۶ کله چې اورم دا شیان نو ورپیږمه زه

له وېرې ورپیږي شونډې زما

شل شي بدن زما

او پښې مې ورپیږي

خو په ارامۍ کړم انتظار د هغه وخت چې راشي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې سزا ورکړي هغو خلکو ته خدای

چې کړي حمله په مونږه

## حبقوق د ستونزو په وخت کې هم په خدای کې خوشحالي کوي

۱۷ که ونه نیسي مېوه د انځرانو ونې

او ونه نیسي انګور تاک د انګورو

که حاصل ورنه کړي زيتون

او په پټيو کې ونه شي غله

که مړه شي پسونه او وزې ټولې

او غوجل خالي شي له غويانو څخه

۱۸ خو زه به بیاهم خوښ او خوشحاله یمه

زه به خوښ شم چې ژغورونکی دی

څښتن خدای زما

۱۹ څښتن خدای زما قوت دی

قوي کوي زما پښې لکه هوسۍ په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ما خوندي ساتي په غرونو کې


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.